شهسوار سنګروال ۲۰۱۷/۰۸/۲۵

د فاطمه سلطان له توطیې ډک داستان

فاطمه سلطان او زامن یې

تېره ورځ مې دفېسبوک په تندي یو په زړه پورې سرلیک ترسترګوشو، خوډېرخواشینی یم چې هغه ګړی یو تېلفون راته راغی، له یوه دوست سره په خبروبوخت شوم...

کله چې مې بیا د فېسبوک پاڼه راواړوله دغه په زړه پورې لیکنه مې ترګوتونکړه، ولې دومره پوه شوم، چې خبره دفاطمه سلطان ده اوپه دې تړاو یو شمېرانګېرنې لااوس هم دزمان په خړودوړو کې تتې پرتې دي اوچاپې له مخې پلو نه دی پورته کړی !؟

ماڅوکاله دمخه دامان اله پېرته یوه نوې کتنه، ترسرلیک لاندې یوه لیکنه افغان جرمن خپرونې ته لېږلې وه، او همدغه کیسه کې د ستیوارټ ري له کتاب Fire in Afghanistan نه راغبرګه کړې وه.

د کیسې رښتنی انځور او نچوړداسې دی: هغه مهال چې پاچا امان الله وغوښتل، چې یوپلاوی دمحمد ولي خان دروازې په استازیتوب، له افغانستان سره د دیپلوماتیکو اړیکو د پراختیا او پرمختیا لپاره یوشمېربهرنیوهېوادونوته واستوي ...نوددغوهېوادونوپه لړکې یوهم دامریکې متحده ایالات وو، چې افغاني پلاوی په کا ل نولسوه یوویشت ۱۹۲۱ دجولای په شپږویشتمې ۲۶ نېټې د امریکې له جمهورریس هاردینګ سره ولیدل. د دې لیدنې رښتنې موخه د افغانستان دخپلواکۍ په رسمیت پېژندل وو، ولې بیا هم د یو شمېر نورو هېوادونو په څېرله امریکې سره اړیکې ټینګې نه شوې !؟ په دې تړاو یوشمېرلاملونه شته، ولې په دغه لړکې یولامل هم دانګرېزانو بې شرمانه لاسوهنه وه چې نه یې غوښتل افغانستان نړیوال سیاسي اودیپلوماتیک باورترلاسه کړي . . .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

محمد ولي خان چې کله د جولاي په دويمه نېټه مخ په امريکا وخوځېد، دجولاي په يولسمه يې په نيويارک کې ډاګيزه کړه، چې افغانستان غواړي له امريکا سره دوستانه ديپلوماتيکي اړيکې ټينګې کړي ...محمد وليخان په اولسمه نېټه درسنيو له لارې دکابل اوواشنګټن داړيکوپه تړاو ووېل، د امريکايي سوداګروپانګونه ددواړو هېوادونو لپاره ګټوره ده، د افغانستان لاسي صنعت په دې لړکې دافغانستان غالۍ دبېلګې په توګه يادولی شو،چې ښايي دامريکا ولس ته دپام وړوګرځي .

برتانويانوته دا د ځغم وړنه وه چې افغانستان نړيوال باور ترلاسه کړي. نوځکه يې دفاطمه سلطان په نوم يوه مېرمن، چې دشاه شجاع له کورنۍ سره يې تړاودرلود، له

خپلوري زامنوسره له برتانوي هند نه امريکاته واستوله شوه...دې مېرمنې له ځان سره د درياي نورپه نوم (55 قيراطه) يوالماس هم درلود، چې په برتانوي پاسپورت سانفرانسيسکوته ورسېده . نوموړې له خپلو درې زامنوسره، چې دمشرزوي نوم يې شهزاده

محمدهاشم، چې نولس کلن وو، دويمې يې شهزاده محمد عظيم(17)کلن اودرېيمې يې محمد اکبروو،چې دولس کلن وو. دوئ دبرتانوي جنرال کونسل له خواله تاوده هرکلي سره مخ شول اوبيا له هغه ځايه د ده په مرسته نيويارک ته ولېږدول شول. . . مېرمن فاطمه دجنرال قونسل په سپارښتنه ديوه چاله خوا د نيويارک ټايمزورځپاڼې ته ورويېژندله شوه...نيويارک ټايمزدجولاي نهمه نېټه؛ يوه افغانه شهزادګۍ له درې زامنوسره؛ترسرليک لاندې وکښل: فاطمه سلطان ،چې دپاچا امان اله خورکېږي،له خپلوري زامنوسره،چې دنړۍ دويمه درجه الماس هم ورسره دی پرون له سانفرانسيسکونه نيويارک ته راورسېده، ښايي دامريکا له جمهورريس سره وګوري.

فاطمې له يوې خواپه يوه قيمتي هوټل چې والدورف استوريا نومېده استوګنه کوله. له بلې خوابريتانوي سفيرهڅه کوله،چې دامريکې له جمهورريس هاردينک سره دملاقات زمينه برابره کړي...دامريکا په ټولورسانيوکې ددې په کالېيو، ګاڼو، د دې اود دې داولادونو په کړووړو خبرې روانې وې...په داسې حال کې چې ددريانورالماس يې په غاړه کې بړک وبړوک جوړکړی وو،دنيويارک د ښاروال جان ايف هايلن په ميلمستيا کې ګډون وکړ...

دامريکا خلکوته دپوښتنې وړخبره داوه، چې له يوې خوا فاطمه سلطان ځان دپاچاخورګڼي اوله بلې خواچې محمد ولي خان دپاچا استازی وو،دهغې له پېژند ګلوې نه انکارکوي.خوله هغې چې پوښتنه وشوه ايامحمد ولي خان پېژنې؟ فاطمه سلطان وويلې نيکونه مويوبل سره وروڼه ول...حال داچې دوئ په قوم کې هم شريک نه ول. دا چې يوشمېر کسان پخپلوليکنوکې دمحمد وليخان له نوم سره دشهزاده اويا د سردارکليمه دمختاړي اويا د وروستاړي په بڼه ليکي سمه نه ده...داچې دوئ پخپلوکې يود بل سره نه پېژندل امريکانوته دپوښتنې وړ و...!؟

تردېره بريده بريتانوي ښکيلاک خپلې موخې ته ورسېد. لکه چې نيويارک ټايمزدجولاي په ديارلسمه ګڼه کې،؛دافغانستان سلطنتي کورنۍ دوه غړي يوبل سره نه پېژني؛ترسرليک لاندې،سپيناوي لپاره دانګرېزانواوامريکې چارواکواومسولينوسره خبرې وکړې اوددوئ څرګندونې خپرې کړې .په دغه لړکې انګرېزانوځواب ورکړ،چې دغه مېرمنې يوه رښتنې شهزادګۍ ده،خودافغاني پلاوي په تړاو يې بې خبري وښوده ...!؟سره ددې هم دامريکا دبهرنيوچاروزير،جمهورريس ته سلاورکړه،چې محمد ولي اوپلاوی خپل حضورته وغواړي،هغه ووچې له پلاوي سره يې دجولاي په شپږويشتمې نېټې وليدل،خوله دې دمخه يې له فاطمه سلطان سره په سپينه مانۍ کې هم ليدلي ول...کله چې پلا وې دپاچاامان اله ځانګړی ليک هاردينګ ته وسپاره ،هغه ورته په ځواب کې وليکل : زه هيله مند يم،چې دامريکا اوافغانستان ترمينځ اړيکې دوستانه وي ...خوښ يم چې په دې برخه کې له پاچاسره همکاري وکړم،ولې مجبوريم،چې ددپلوماتيکواړيکودټينګښت لپاره دامريکا کانګرس بايد پرېکړه وکړي .

بريتانوي چارواکو ورته توطېې په يوشمېراروپايي هېوادونوکې هم ترسره کړې وې،چې موږ ايټاليه اوجرمني دبېلګې په توګه يادولی شو. دوی ژمنه کړې وه چې له افغانستان سره به دوسلو او پيسومرسته کوي. ولې انګرېزانو ګواښ وکړ، چې د برتانوي هند له لارې افغانستان نشي کولی چې خپل هېواد ته وسلې راوړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ